# د الحاج محمد امين (باباجي) د ژوند مطالعه

## A Study of The life and Services of Al-Haj Muhammad Amin

تاج نبي خان*

**Abstract:**

Alhajj Muhammad Amin is one of a great literary figure in the field of Pashto literature .He contributed mostly in the Pashto holy songs .He praised the Prophet through his poetry and showed his deep love for him .He has authored many books in Pashto prose and poetry. Along with it his efforts and struggles for Pashtun people in character development is praiseworthy. He trained Pashtun people how to spend their lives according to Islamic teaching.It is now valuable to inform the people about his character in such a way that they may know about his early life which he led and struggle to guide his followers spiritually. He was not only a poet but a great general and social figure also of his time. He was an active member of war of independence. But his untiring effort in the field of holy songs is unmatchable and unprecedented. His poems and songs are full of devotional love and affection of the prophet Muhammad peace be upon him. In spite of the above mentioned traits and qualities, his early childhood, primary education and family tree is unknown. This research aims to dig out all those things which were unknown till date with references and solid proofs. Before this research all other researches were lacking in this regard.

**Keywords:** Muhammad Amin, Pashto, Language, Literature.

په پښتو ادب کښې د نعت په حواله الحاج محمدآمين دپيژندګلومحتاجه نه دی۔ پښتو ادب ته نعتيه پيرزوني د ده سترکار دی،دا کار دوي ځکه په ډيره احسنه بڼه مخې ته راوړی چې دی يولوئي عشقِ رسول وه۔ ددي پاکي اوسپيڅلي ميني په زور دوي پښتوادب ته په منثور او منظومه لاړ ډير څه ورکړل او داسې د پښتون قام په کردارسازۍ کښې ستړي د ډير تعريف او صفت دي۔ دوي د خپلو ليکنو په زور پښتون قام ته دا ښودلي چې د اسلامي تعليماتو لاندي به ژوند څنګ تيروي۔

دا اوس د وخت ضرورت دی چې د داسې ستر کار او زيار خاوند خپل قام ته راښکاره کړی شي۔ ځکه چې د دي نابغه شخصيت ژوند ، د پيداوښت کال،شجره نسب او ابتدائي زده کړي نن هم په بنده غونې کښې دي۔ په دي څيړني کښې کښې د کوټلو دليلونو لاندي دا هر څه مخې ته راوړی شوي دي چې تر دي دمه پري بل چا هم کار نه دی کړی۔

---

* M.Phil Scholar, Department of Pakistani Languages, Allama Iqbal Open University Islamabad.

دالحاج محمد امین المعروف باباجي رحمه الله په ۱۸۹۵ء کښې پېدا شوي دي. دَ دوي دَ والد صاحب نوم اسد الله خان وۀ چې دَ خپل وخت یو منلی شوی پښتون او باوقاره انسان وۀ. باباجي دَ ولي خان بابا نمسی وۀ. ولي خان بابا هم دَ خپلې علاقې یو یاد سړی وۀ ځوك چې دَ انګرېزانو په فوځ کښې صوبېدار وۀ.

> دَ باباجي دَ پېدائش په حقله ښاغلی ډاکټر اسلام ګوهر دَ تحسین الله صاحب په حواله لیکي:"دَ حضرت الحاج محمد امین پېدائش دَ خلیل مهمندو په علاقه کښې، دَ پېښور په یو کلي سلېمان خېل کښې په یوه خوشحاله کورنۍ کښې دَ ښاغلي اسدالله خان په کور کښې تقریباً په 1901ء کښې وشۀ". (1)

ښاغلی تحسین الله په دې حقله پخپله سه داسې لیکي:

> "دنیا دا روښانه او روڼ ستوری دَ خلیل مومندو په علاقه (پېښور) خان خېل کورنۍ کښې دَ سلېمان خېل په مقام دَ ښاغلی اسعدالله خان کره وځلېدۀ. دَ دوي دَ زېږېدنې دَ نېټې په حقله دَ لیکونکیو رایې دَ یو بلې نه بدلې دي". (2)

دَ دې کرښو دَ لیکونکي دَ معلوماتو تر مخه حضرت حاجي صاحب رحمه الله دَ پېدائش کال 1901ء جوړېږي ځکه چې دَ دوي پاسپورټ په 1951ء کښې جوړ شوی دی چې په هغې کښې دَ دوي عمر 50کاله لیکلی دی.

> دَ باباجي دَ پېدائش متعلق چیف اېډیټر انصار الابرار څۀ داسې رقم طراز دی: "ربښتونی مینه وال ، مجاهد کامل ولي او دَ زمانې غوث حضرت باباجي مبارك په پاسپورټ کښې درج تاریخ 1951ء دی کوم چې دوي دَ پنځوس کالو په عمر کښې جوړ کړی وۀ. ښکاري داسې چې دوي دې دنیا ته په 1901ء کښې تشریف راوړی وۀ. دَ دوي دَ کورنۍ تعلق دَ لنډي کوتل دَ یادې کورنۍ شېخ محمد خېل دَ یوې ذیلي څانګې عالم خان سره وۀ". (3)

په پورتنو حوالو کښې یوه خبره په نظر راځي او هغه دا چې دغه ټولو حضراتو دَ یو بل نه یوه خبره رانقل کړې ده. په دې کښې دَ تحقیق څرك نۀ ښکاري. په دغه حوالو کښې لفظي تکرار په خپل ځای خو زما په نظر دا کال قیاس ته ځکه قرین دی چې دوي په پاسپورټ کښې په هم دغه کال درج کړی وۀ. دغه اندراج به دوي په یو مخصوص حساب یا دَ سکول دَ سرټیفیکېټ مطابق کړی وۀ. لهذا دَ دوي زېږېدنه هم په دغه کال یعنې 1901ء کښې شوې ده.

په دې لړ کښې چې مونږ دَ بابا جي مبارك زوي حضرت "الحمد لله" صاحب سره دَ باباجي مبارك په استانه کښې په دوېمه جولایۍ کال 2017ء یوه ناسته وکړه او دَ دوي نه مو ځنې پوښتنې وکړې چې یوه پوښنته پکښې دَ باباجي دَ تاریخ پېدائش په حقله وکړه. نو دوي ووئیل :

''دَ بابا جي مبارك صحيح پيدائش 1895ء دی، په سلېمان خېل کښې''(4)

دَ الحمدلله صاحب دغه بيان چې دَ پورتنو ذکر شوو محقيقنو په راوړو شوو نېټو کښې کوم تضاد په ګوته کړۀ نو داسې ښکاري چې محترمو څېړنکارانو فقط په اورېدلو خبرو تکيه کړې ده ـ مونږ به وروستۍ حوالې له ځکه اهميت ورکوو چې دا دَ هغوي دَ زوي وېنا ده ـ

البته مونږ چې دَالحمدلله صاحب نه دَ پاسپورټ دَ کاپۍ غوښتنه وکړه نو دوي ووې چې دَ هغې موندل به ګران وي ځکه چې هغه زمونږ نه جاوېد اقبال نومې يو پنجابي محقق دَ کتو دَ پاره وړې چې بيا ئې واپس نۀ ده راوړې ـ زمونږ دَ ټينګار په وجه دوي ژمنه وکړه چې کله هم دغه کاپي لاس ته راشي نو تاسو به خبر کړو ـ

په کال 1901ء او 1895ء تر مينځه دَ شلورو کالو فرق دی چې دا لوی تضاد دی ـ دَ دې خبرې دَ نور تحقيق په لړ کښې مونږ دَ باباجي په استانه عاليه کښې دَ هغوي په شاګردانو او مريدانو کښې دَ يو مشر شاګرد حضرت نور الله صاحب نه هم پوښتنه وکړه نو هغوي هم دغه اندازه وښودله کومه چې ښاغلي الحمدلله دَ يو سوال په جواب کښې وکړه ـ

کله چې مونږ دَ الحمدالله صاحب سره انټرويو سر ته ورسوله نو په جمله جوابونو په دَ سوالنامې په مينځ مينځ کښې وليکل او دَ حضرت الحمدلله صاحب نه مو پرې دستخط واخسته ـ دا کار مو په دې غرض وکړه چې راتلونکي څيړنکاران دَ کوم ابهام سره مخامخ نۀ شي او خبره ورته په واضح صورت کښې مخې ته راشي ـ

دَ ښاغلي الحمدلله صاحب خبره مونږه په خپله هم وسنجوله ، دَ الحمدلله صاحب دَ وېنا تر مخه دَ بابا جي مبارك عمر 63 کاله وۀ ـ هر کله چې هغوي وړومبی وادۀ دَ شپاړسو کالو په عمر کښې کړی وۀ ـ دوي داسې وفرمائيل:

''هغوي ټول اووۀ ودونه کړي وو، اولنی وادۀ ئې دَ شپاړسو کالو په عمر کښې کړی وۀ''(5)

بله اهمه خبره چې کومه مخې راځی هغه دَ باباجي دَ زوي الحمدلله وېنا او دَ باباجي په خپل حيات جوړ شوی پاسپورټ دی ـ چونکې دغه پاسپورټ په کال 1951ء کښې جوړ شوی وۀ ځکه نو ښاغلي تحسين الله دَ دغه نېټې نه حساب کړی دی ـ

اوس کۀ مونږ دَ باباجي مبارك دَ زوي خبرې له اهميت نۀ ورکوو نو خبره به بل ابهام ته رسي ځکه نو حتماً دَ هغوي وېنا درسته کېدی شي ځکه چې دَ خپلو بچو په نسبت دَ نورو محققينو حېثيت په دوېمه درجه کښې شاملېږي ـ

عجيبه اتفاق دا دی چې دَ دوي دَ عمر يا تاريخ پېدائش په حقله دغه حوالې په يوه بڼه کښې په ''شخصيات سرحد'' او ''ډاکټر دوست محمد خان خټك'' او ''ډاکټر هدايت الله نعيم'' وړاندې تلي

دي ـ دَ بابا جي مبارك ټول ژوند څنګه چې وړاندې ذکر وشهٔ ، لکه دَ نمر روڼ او روښان دی ځکه نو دَ دوي په تاريخ پېدائش کښې غلطي خارج از امکان خو نهٔ شي کېدی خو دَ هغوي عالمانه او فاضلانه شخصيت او حېثيت په دې خبره دلالت کوي چې دَ پاسپورټ دَ جوړېدنې په وخت دَ عمر په خانه کښې مذکوره سن ليکل هغوي ته درست ښکاره شوي دی، هم دغه خبره دَ دوي دَ زېږېدنې دَ نېټې په حقله لوی دليل ګرځېدی شي ـ هم دغه دليل دَ محققينو تر مينځه دَ رايو دَ اختلاف دَ رد کولو باعث او دا ثبوت درست منلی شي ـ

سربېره له هر څهٔ ، دَ باباجي دَ زېږون دَ نېټې په حقله بيا هم زما پوره تسلي او تشفي ونهٔ شوه، نو زهٔ دَ شېخ محمد زي سکول ته لاړم او هېډ ټيچر جناب مسرت شاه صاحب سره مې ليدهٔ کاتهٔ وکړل ـ هغوي راله دَ سکول ټول زوړ ريکارډ راواخستهٔ ، چې تر ټولو اهم دستاويز پکښې داخل خارج وهٔ ـ

دَ دغه داخل خارج مطابق دَ شېخ محمدي سکول اجرا په 1930ء کښې شوې ده ـ دلته بيا يوه لويه مغالطه راولاړه شوه او دَ بابا جي دَ زېږون نېټې په حقله شبهات سېوا شو ـ

ما جناب مسرت شاه صاحب هېډ ټيچر ګورنمنټ پرائمري سکول شېخ محمدي پېښور ته خواست وکړهٔ چې کهٔ راله دَ داخل خارج نه نقل راکړي نو مننه به وي ، دوي زما درخواست قبول کړهٔ او دغه شان دَ داخل خارج دَ وړومبنۍ پاڼې يا صفحې نقل ئې ويستهٔ او په خپل قلم ئې پرې وليکل :

"تصديق کولی شي چې دَ ګورنمنټ پرائمري سکول شېخ محمدي اجراء په 1930ء شوې ده او دلته دَ محمد امين ولد اسدخان ساکن سلېمان خېل په دې سکول کښې ئې هېڅ اندارج نشته ـ دا دَ داخل خارج اولنۍ پاڼه ده " ـ(6)

اوس کهٔ څوك دا ومني چې باباجي مبارك په 1901ء کښې پېدا شوی وهٔ نو ظاهره ده چې دَ پينځو کالو په عمر کښې، 1906ء کښې به په کچه ادنیٰ کښې ناست وهٔ او په ورپسې کال يعنې 1907ء کښې به دَ شپږو کالو په عمر کښې په پخه ادنیٰ يا اول ادنیٰ کښې داخل کړی شوشوی وهٔ ـ دوېمه، کهٔ څوك دَ هغهٔ دَپېدائش صحيح کال 1895ء وګڼي نو په دغه حساب هم دَ شپږو کالو په عمر کښې ئې دَ داخلې کال 1901ء جوړېږي ـ ځکه چېپورتنۍ دواړه خبرې غلطې دي ـ دَ سکول اجراء په کال 1930ء کښې کېږي، په دغه زمانه کښې دَ مکتب سکول رواج نهٔ وهٔ ـ البته دَ جومات دَ زدې کړې بندوبست دَ هر کلي په هر جومات کښې موجود وهٔ ـ دې سره سابقه تحقيقونه مشکوك کوي او زمونږ اوسنی تحقيق په دې نکته ودرېږي چې دَبابا په سکول کښې دَ داخلې خبره يوه فرضي قيصه ده ـ

په سکول کښې چې په اوله فرورۍ 1930ء کښې وړومبنی ماشوم داخل شوی دی، دَ هغهٔ نوم محمد شريف دی ـ زمونږ دَ کوشش باوجود مونږ داسې څوك بنده پېدا نهٔ کړی شهٔ ، چې په دغه سکول کښې ئې سبق وئيلی وي او ژوندی وي ـ په هر حال دَ پورتني بحث په رڼا کښې مونږ په دې نتيجه رسو چې د محققينو حضراتو د پېش کرده حوالو په تناظر کښې باباجي مبارك په کال 1901ء کښې زېږدلی وهٔ،

په 1951ء کښې ئې دَ پنځوسو کالو په عمر کښې پاسپورټ جوړ کړی وۀ او په کال 1958ء کښې دَ اتۀ پنځوس کالو په عمر کښې په حق رسېدلی وۀ چې زمونږ د تحقيق او لاس ته راغلو صحيح شهادتونو په رڼا کښې دَ باباجي مبارك دَ زېږېدنې صحيح نېټه 1895ء ده او د مړينې نېټه ئې 1958ء (31 مه مئي 1958ء) ده چې د مرګ په وخت د دوي عمر 63 کاله وۀ۔ بايد چې سابقه او راروان محققين دغه شهادت صحيح ومني۔

**شجره نسب**:

مونږ چې دَ بابا جي شجره نسب ته ګورو نو دَ ټولو پښتنو تاريخ به په نظر کښې نيسو۔هر څو کۀ دغه تاريخ دَ يوې تاريخې تنازعې شکل اختيار کړی دی او پښتانۀ هر تاريخ دان په خپل خپل انداز کښې پېش کړې دي۔ څوك ئې سامي النسل ګڼي، څوك ورته اريا وايي، څوك ئې ايراني نژاد ګڼي او څوك ئې عرب سره دَ قېس بابا په واسطه تړي خو کۀ دَ دغه بحث نه راتېر شو او په لواړګي کښې دَ ابادو کورنيو بنديانو ته ځير شو نو واضحه خبره ده چې دغلته دَ اپرېدو سره سره مهمند هم اوسېدل چې دَ يو نيکۀ اولاد دی۔ په دغه حواله مونږ وئيلي شو چې دَ لنډي کوتل دغه قبيله دَ خپل قبائيلي ژوند په پلمه دَ خپل وخت يوه معروفه کورنۍ وه۔ څنګه چې دَ پښتنو عامه بدنصيبي ده چې دوي په خپل مينځ کښې دشمنۍ پالي او تر اوږدو زمانو پورې ئې پالي هم دغسې دَ باباجي مبارك کورنۍ هم دَ خپلې قبائيلي روايت تر مخه په هجرت مجبوره شوې وه او لاندې پېښور ته راکوزه شوې وه۔

په دې لړ کښې ښاغلی تحسين الله ليکي:

> ”دوي دَ لنډي کوتل خېبر اېجنسۍ دَ مشهور خليل مومند قوم (ټبر) دَ شېخ محمد خيل دَ ذيلي څانګې عالم خان سره تړون لرۀ“۔(7)

مونږ چې دَ دوي دَ شجره نسب په حقله نورو محققينو حضراتو ته رجوع وکړه نو هغوي هم دغه پورته حواله په يو حساب راوړې ده۔ په دستيابو موادو کښې مونږ سره اشتياق صاحب، تحسين الله صاحب او انصار الله ابرار صاحب په لاس راغې چې دوي ټولو دَ يو بل نه استفاده کړې ده۔ نورو حضراتو دَ دوي دَ ژوند او حالاتو په حواله کار نۀ دی کړی۔

هر کله چې مونږ دَ باباجي مبارك دَ زوي الحمد لله صاحب نه دَ دوي دَشجرې په حقله وپوښتل:

> ”سوال: دَ باباجي دَ شجره نسب په حقله تاسو څۀ وايئ؟
>
> جواب: خليل مومند ، باړې سره نژدې'(8)

دغه مختصر جواب هغوي وفرمايۀ خو زمونږ پرې تسلي ونۀ شوه ، چې کله مونږ نور اصرار وکړۀ نو هغوي ووې چې زۀ نور نۀ يم خبر۔لهذا مونږ دَ انټرويو دَ سوالنامې دَ دغه خانې په جواب کښې هم دغه هومره وليکل ، څۀ چې په حواله کښې وړاندې کړل۔ واضحه ده چې دغه وخت مهمندقبيله دَ خېبر سره دَ نوښار نه واخله تر پېښوره پراتۀ وو۔ دَ لواړګي او بيا په وروسته کښې دَ مهمند اېجنسۍ قيام

هم دَ دې خبرې غمازي کوي چې دوي دَ حرکت په ډول ژوند تېر کړی دی او دَ کډوالۍ دَ عمل نه لکه دَ نورو پښتنو تېر شوي دي . ځکه نو دا خبره دَ منلو وړ ګرځي چې دَ بابا جي نيکهٔ به دَ لواړګي نه دَ پېښور خليلو ته دَ خپلو نورو عزيزانو خواته کډه کړي وو. دَ دغه کډوالۍ عوامل دَ کورنۍ دشمنۍ سره سره نور هم کېدی شي چې پکښې هغې کښې معاشي او سماجي عوامل يا ستونزې دَ نظر نهٔ شي غورځولی کېدې . په هر حال دَ باباجي مبارك شجره نسب دَ پښتون عمومي تاريخ ته ورسېلمه دی چې دَ پښتنو دَ مشهور قبيلې مهمندو سره ئې دَ وينې رشته ده چې دَ پښتونخوا په مختلفو کليو کښې دَ استوګنې نه علاوه دَ باباجي رحمه الله تېر په دَ لواړګي نه پېښور ته راغلل او دلته عالم خان سره مېشته شول.

دَ شجره نسب په حواله دَ باباجي مبارك خپل بيان هم دَ هغوي په زبان په ټولو حاصلو سربېره معلومېږي ،لکه چې په خپل يو مشهور نظم ''خاتمه دَ کتاب او بعضې حالات دَ عاجز مصنف او تاريخ دَ کتاب او درخواست دَ دعا له مسلمانانو ورېو نه په لحاظ دَ الله جلاله'' کښې دَ دولسم شعر نه پس وايي:

زهٔ خاکسار يم پېښوری خليل مهمند
بيا مهمندو کښې مقام لرم ځرګند
خپل اصلي مسکن لرم سلېمان خېل
دَ خوږې محلې دی نوم زما خانخېل
دغه ځای کښې پېدا شوی يم له موره
رب دې وساتي دا ځای له شر و شوره(9)

دَ مهمندو دَ ځايي ټاټوبي په حقله ښاغلی عبدالحنان صافي په خپل کتاب کښې ليکي:

"د مهمندو او يوسفزيو شريکه ورشو د نوښار نه تر خېراباده پورې خوره وه چې دوي پکښې په شريکه څاروي څرول . هغه مغلو قبضه کړه نو مومندو د خپلو ګډو بيزو کنډکونه د صافو غرونو ته راوستل چې هاغه وخت ډېره ښېرازه وهٔ دغه سيمه د شنو وښو او ځنګلونو نه ډکه وه او دا غرئيزه علاقه د سور کمر نه واخله تر ابازو پورې د صافو په ولقه کښې وه . دا خلق ورو ورو بره تلل او د صافو په غرونو کښې ابادېدل . صافو د دې خبرې د مخ نيوي د پاره د جرګو غونډې شروع کړې . کله چې به د غونډې نېټه وټاکلې شوه نو مومندو به څو څورب ګډان حلال اوپاخهٔ کړل او غټ غټ پتونان به ئې په ډوډۍ کښې ونغښتل او د جرګې مشرانو له به ئې په ډالۍ کښې ماښام يوړل، ياد ساتل پکار دي چې د مومندو تنوري ډوډۍ دومره غټې وي چې څلور کسان په يوه

ډوډۍ په اسانه مړېږي ـ جرګه به چې کله راغونډه شوه او د مهمندو نه د قبضې اخستلو فېصله به ئې کوله نو د ګډانو غوښې خوړلو والا ملکانانو به غږ وکړۀ چې مهمند غريبانان ګډبانۀ دي ، په غر به څۀ وکړو ، مهٔ کوئ چې خپل څاروي پکښې څروي ـ هم دا رنګ جرګه به خوره شوه او مهمندو په چل چل د صافو زمکه قبضه کړه او چې کله فرنګيان راغلل او ايجنسياني ئې نومولې نو د صافيانو زمکو ته ئې مهمند اېجنسي نوم کېښود لکه څۀ رنګ چې سويلي پښتونخوا د مسعودو سيمې ته جنوبي وزيرستان وئيلي شي ، حالانکې مسعود قام پکښې مېشته دی"(10)

دَ پورتنو دواړو حوالو نه مونږ ته دَ باباجي مبارك دَ پېدائش دَ ځای ځائګي اوقبيلوي تعلق په حقله مضبوط دليل په لاس راغلل ـ مضبوط په دې بنياد چې اولنۍ خبره دَ باباجي دَ خپلې خلې بيان دی او دوېمه حواله دَ مهمند قام دَ مسکن صحيح تعين دی چې دَ شك ګنجائش له مينځه وړي او دَ ابهام صورت پکښې نه پاتې کېږي ـ

دَ باباجي مبارك حضرت مولانا محمد امين صاحب رحمة الله عليه خپل ځان کله هم يوې قبيلې ته نۀ وۀ محدود کړی ـ هغوي چې څنګه ټول عمر په ګردش او سفر کښې پاتې شوي دي دغه شان ئې ځان دَ اسلام دَ دين خادم ګڼلی دی او دَ مدينې په غلامۍ ئې فخر کړی دی ـ خپل ځان ، خپل نوم، خپل وخت او خپل مال ئې دَ مدينې دَ سرکار په دربار باندې هر وخت فدا کړی او نثار کړی دی ـ

دَ باباجي مبارك ذات اقدس په قبيلوي افتخاراتو کښې نۀ دی ورك شوی خو څنګه چې دَ دنيا دود دی چې ''پیوستہ رہ شجر سے امید بہار رکھ'' په مصداق دوي په خټه پښتون، په قبيله مومند او دَ مومندو په ذيلي شاخ کښې سلېمان خيل کښې عالم خانی وۀ ـ دَ کوم حال چې په مدلل انداز کښې وړاندې تېر شۀ ـ

ابتدائي تعليم:دَ حضرت الحاج محمد امين باباجي رحمة الله علېه وړوکوالی دَ نورو عامو ماشومانو نه بېخي مختلف وۀ ـ دوي په وړوکوالي هم ډېر سنجيده او هوښيار وو ـ والدېنو دَ دوي مبارك نه کله هم شکايت نۀ دی کړی ـ دَ هغې وجه هم دا وه چې دَ وي طبېعي رجحان دَ دنيا په مذهب دين ته زيات مائل وۀ ـ دوي چې په کوم ماحول کښې سترګې غړولې وې دغه ماحول دَ وي دَ مزاج په ضد وۀ ـ څنګه چې وړاندې ووئيلي شو چې دَ وي کورنۍ متمدن مالي حېثيت لرۀ خو باباجي مبارك دَ ابتدا نه درويش صفت انسان وو ځکه نو په خپل دغه ماحول کښې ئې ځان ورك نۀ کړۀ ـ دَ دوي والد صاحب غوښتل چې دوي دنياوي تعليم ته راغب کړي خو دَ دوي دننه دَ روحاني جذبې دَ روښانه جذبې زور په دنياوي محرکاتو غلبه شۀ ـ

مونږ چې دَ باباجي مبارك دَ پېدائش په لټون کښې شېخ محمدي زي سکول ته لاړو نو هلته مونږ له دَ باباجي مبارك په حقله کوټلې معلومات په لاس رانۀ ګلل ـ اوس چې مونږ دَ مقالې دې برخې ته

راورسېدو او دَ باباجي دَ ابتدائي تعليم په حقله بحث کول مو مقصود دي نو هم دَ هغه تېر شوي کېفيت سره مخامخ شو.
هسې خو انصار الابرار صاحب ليکي:

"دوي ابتدائي تعليم دَ شېخ محمدي په يو پرائمري سکول کښې او دَ ځينو څېړنکارو په رو سره دَ ماشو خېلو په پرائمري سکول کښې حاصل کړۀ. دَ څلور جماعت پاس کولو نه پس دَ دوي والد صاحب دوي له دَ پينځم جماعت کتابونه واخستل. دوي خپلې مور بي بي ته ووې چې په دې کتابونو کښې انګرېزي ده او زۀ انګرېزي وئيل نۀ غواړم خو دَ پلار غوښتنه ئې دا وه چې خامخا به سکول وايې. هر کله چې دوي ډېر مجبور کړی شو نو دَ خاورو تېل ئې په دغه کتابونو واړول او وئې سېزل".(11)

هر کله چې مونږ سره دَ شېخ محمد زي په سکول کښې دَ باباجي مبارك په حقله معلومات نشته نو مونږ دَ فاضل محقق دغه حواله هم سمه نۀ شو ګڼلې. کۀ چرې دَ محقق تحقيق په صحيح خطوطو مبني وۀ نو ذکر شوې واقعه دَ خپل نوعيت يوه غېر معمولي واقعه ده. دَ څلور، پينځم جماعت طالب علم دَ عمر په لحاظ ماشوم وي او ماشومانو دغه نمونه خبرو ته دومره ډونګې نۀ ورکوزېږي څومره چې دَ انګرېزی نه دَ نفرت په وجه دوي جذباتي شوي وو. شايد دغه جذبه دَ ماحول اثر وۀ. په ټول چاپېرچل کښې دَ پېرنګي خلاف يوه کرکه موجوده وه ، چې دوي دَ پښتنو وطن قبضه کړی دی. ځکه خو دَ دوي والد صاحب دَ باباجي مبارك دَ دغه جذبې په احترام کښې دې خبرې ته غاړه پسته شۀ چې ټيك ده چې انګرېزي تعليم دې نۀ دی خوښ نو مۀ وايه. په هر حال دغه بيان يو Fantasy ښکاري.
بابا جي مبارك هم په دغه عمر کښې دَ جومات تلو نه انکار نۀ دی کړی بلکې په جومات کښې دَ هغه وخت دَ طريقې مطابق دَ خلاصه، منيا، پنج ګج، جنګ نامه، نور نامه، نور نامه او نور داسې کتابونه چې وړو ته به لوستی شو، دوي ورسره دَ خپلې مينې دَ زده کړې دَ جذبه څرګندونه په بيا بيا کوله.
دې ضمن کښې ښاغلی تحسين الله ليکي:
"په دغه وخت کښې دَ دوي دَ جومات کښې ښاغلی محمد اعظم ملا صاحب چې په کوټی ملا صاحب باندې ياديږي (خدای دې وبخښي)

"حضرت حاجي صاحب رحمه الله دَ دوي نه خلاصه او پنج ګنج لوستل شروع کړل. په دغه ورځې کښې دَ ګرمۍ موسم وۀ. په دې وجه خلق به دَ ګرمۍ له وجې دَ شپې دَ خپلو کوټو په چتونو ودۀ کېدل. حضرت حاجي صاحب رحمه الله به هم دَ شپې دَ خپلې کوټې په چت سملاستۀ. دَ پنج ګنج نه به دوي په خوږ اواز شعرونه زمزمه کول. خدای پاك دوي له يو ښکلی اواز هم ورکړی وۀ. دَ دوي استاذ دوي ته ووې چې امين خانه لږ په اوچت اواز ئې وايه (دَ دې خبرې ذکر وړاندې وشۀ چې دَ دوي نوم امين خان وۀ خو بيا وروستو

دوي ځان له بدل کړۀ، دَ دې نه پس به دوي په اوچت اواز دغه شعرونه وې چې دَ دوي استاذ پرې ډېر خوشحاله شه"⁴.(12)

دا خبره تیك ده چې الله پاك دوي له ډېره خوش الحانه غاړه ورکړې وه . دا دَ دې خبرې هم غمازي کوي چې باباجي مبارك دَ دين سره دَ بې کچه مينې له کبله دَ خپل اواز په رياضت خپل عبادت اډانه ساتلي وو او دَ روحاني زده کړې سلسله ئې دَ اخره پورې په دوام دراره توګه جاري وه .

دَ باباجي مبارك مينه دَ ذکر الٰهی سره هم ډېره زياته وه ، دوي له خداى پاك دَ شعر او بيا په خاصه توګه دَ نعت ګويۍ صلاحيت هم ورکړې وۀ . په دې ضمن کښې دَ تحسين الله صاحب يو روايت راوړې دی ، هر څو کۀ دَ دې حوالې دَ باباجي عمومي زدکړې سره تعلق نشته خو دَ هغوي دَ تعليم دَ زمانې يوه داسې واقعه ده چې مونږ ترې نۀ يواځې دَ باباجي دَ حالت دَ کتنې او پلټنې په وخت حظ اخستی شو بلکې دا واقعه مونږ له دَ هغوي دَ زدکړې په ترڅ کښې دَ هغوي دَ شعوري رجحاناتو يو درك په لاس راکوي: يوه ورځ دوي خپل استاذ کوټې ملا صاحب ته ووې چې دَ خلاصې دا شعرونه زۀ پښتو ته راواړوم نو خپل استاذ ورته وې چې دې سره به تۀ دَ ثواب نه محروم شې ځکه چې بيا به خلق ستا شعرونه خوښوي . دَ دې نه دا خبره څرګندېږي چې دَ شروع نه دَ دوي حمد و ثنا او نعت ګويۍ سره شوق وۀ . دوي دَ خپل استاذ دَ ادب او احترام په وجه داسې ونۀ کړل ځکه چې دَ وړوکوالي نه دوي کښې ډېر ادب وۀ . دوي چې څۀ هم تر لاسه کړي دي دَ ادب په وجه ئې ترلاسه کړي دي .

تحسين الله صاحب په خپل کتاب کښې خپل تحقيق په دې دول وړاندې بوځي وايي چې دَ دوي دَ زدکړې سلسله هم له دغه جومات څخه روانه شوه . دوي بيا دَ خپل کلي نه بډه بېرې ته دَ نورې ديني زدکړې دَ پاره تشريف يوړۀ . بډه بېره دَ پېښور ښار په مضفاتو کښې راځي چې ډېره لرې هم نۀ ده، دَ سليمان خېلو نه تقريباً دوه ميله فاصله کښې پرته ده . هلته چې دوي لاړۀ نو دَ استاذ محترم قطب الدين صاحب نه ئې "يوسف او ذليخا" نوم منظوم داستان او نور ديني کتابونه ولوستل . دَ دوي حافظه هم دَ نورو زدکوونکيو په نسبت تېزه او توانا وه . دوي چې به يو ځل دَ خپل استاذ نه څۀ واورېدل هغه به ورته ياد شو . ځکه خو دَ خپلو استاذانو په ذهينو شاګردانو کښې يو اهم مقام لري . په دغه زمانه کښې دَ تلو راتلو وسائل محدود وۀ، اکثر به په خرو کچرو يا اسپو باندې سفرونه کېدل . دوه هر څو کۀ ډېره فاصله نۀ وه خو بيا هم دوي له پلار دَ بډه بېرې نه کور ته دَ تګ راتګ دَ پاره يو اسپه اخستې وه . يوه ورځ دوي دَ اسپې نه راوغورځېدل چې يو لاس ئې مات شۀ . دَ دوي دغه لاس تر اخري عمره پورې نۀ وۀ تيك شوې . وجه ئې دا وه چې طب دومره پر مخ نۀ وۀ تللی . دَ سرجرۍ يا اپرېشن بندوبست وۀ نه ځکه نو دَ دوي دَ لاس دغه مات هډوکی بې ځايه ورغی چې نقص پکښې ټول عمري پاتې شۀ .

باباجي مبارك رحمه الله په باقاعده توګه چرته په دارالعلوم کښې داخل شوی نهٔ وهٔ ، په ازادانه توګه به ئې دَ مختلفو استاذانو نه سبق اخستهٔ ـ په خپل وطن کښې دوي دَ فقې، نظم او صرف و نحو زدکړې وکړې او دې کښې په دَ هغوي په شخصیت کښې یو خاص کشش پېدا کړهٔ ـ دَ چا هم چې هغوي سره ملاقات شوې دی یا خبرې اترې شوي دي نو یو خاص لذت ئې محسوس کړی دی ـ بله غټه خبره دا ده چې دوي به هر وخت په ذکر الٰهی کښې مشغول اوسېدل ـ دا عادت دَ ډېر وړوکوالي نه دوي سره ملګری وهٔ ـ دَ دوي بصیرت هم ډېر دَ کمال وهٔ ـ

دَ بابا جي مبارك یو مرید او شاګردنور الله صاحب، چې دا وخت عمر رسیده شخصیت دی، دَ دي په استانه عالیه کښې دَ خبرو اترو په دوران کښې ووئیل:

"دوي چې تر کومې په خپل کلي وو، دَ دین دَ زده کړې نه دَ یو ساعت دَ پاره هم غافله شوي نهٔ وو ـ باباجي مبارك دَ بډه بېرې نه پس کېمبل پور، اتمانزو، پړانګو ته هم دَ علم دَ حصول په لړ کښې تلی راغلی دی"(13)

مونږ دَ اشیتاق فاروقي صاحب دَ کتاب دَ مطالعې نه ځینې داسې خبرې هم اخذ کړې چې دَ دوي طبع روحانیت ته زیاته مائله وه ـ لکه چې وړاندې ذکر وشهٔ چې دوي دَ خدای په رسول دَ حده نه هورته عاشق وهٔ ـ دَ خپل ځان، دَ خپلو ارمانونو، دَ خپلو خواهشاتو او دَ خپل کلهمو غوښتنو نه زیات ئې دَ خدای پاك دَ نیازبین رسول حضرت محمد مصطفیٰ صلی الله علیه واله وسلم سره مینه کوله ـ دا دَ ایمان تقاضه هم چې دَ خدای رسول سره به دَ خپل ځان ، اهل و اعیال او مور پلار نه سېوا مینه ساتې ـ په دغه امتحان کښې حاجي صاحب باباجي رحمة الله علیه پوره کامیابي تر لاسه کړې وه ـ دَ سلوك سلسله ئې هم درازه وه ـ باباجي لاډېر وړوکی وهٔ چې په اکوړې کښې ئې دَ مولانا سید مهربان علي شاه نه لاس نیوه کړې وه ـ دغه لاس نیوه په سلسله نقشبندیه کښې وه ـ

تر 1920ء پورې باباجي رحمه الله په خپل کلي کښې وهٔ ، په دغه وختونو کښې دوي دَ حج اراده وکړه او دَ 1920ء او 1925ء په مینځومانه وختونو کښې دوي دغه اهمه فریضه ادا کړه ـ بیا چې کله دوي دَ خپل پیر په اجازت په دوېم وار دَ حج اراده وکړه نو هغوي ورله ډېر په مینه دَ تلو اجازت هم ورکړهٔ او دعاګانې ئې ورته هم وکړې ـ په 1926ء کښې دوي دوباره دَ حج دَ پاره تشریف یوړهٔ ـ په مکه شریفه کښې دَ دوي باچا خان سره ملاقات هم وشهٔ ـ په دې لړ کښې تحسین الله صاحب لیکي چې:

"په کال 1926ء دوي دوباره دَ حج بیت الله شریف دَ پاره لاړل او هلته ئې دَ یاد سور پوش راهنما خان عبدالغفار خان باچا خان سره لیدهٔ کاتهٔ وشو ـ باچا خان دَ باباجي سره وعده وکړه چې وطن ته لاړ شي نو دَ انګرېزانو خلاف به جهاد کوي او هغوي به دَ خپل وطن نه وباسي" ـ(14)

تحسين الله صاحب اګر چې ډېر په تفصيل دغه بحث وړاندې بوځي خو مونږ ترې دَ لنډيز په توګه دا خبره اخذ کړه چې باباجي رحمه الله چې دَ حج دَ سعادت نه واپس تشريف راوړۀ ـ دا وار دوي دَ کوهاټ په دوابه (کربوغه) کښې دَ حضرت مولانا محمدعمر شاه خوا ته لاړل ـ دلته دوي په قادريه سلسله کښې دَ دوي نه بېعت وکړۀ ـ حضرت باباجي رحمه الله په سلسله قادريه او نقشبنديه کښې دَ حضرت فضل واحد چې په ترنګزو باباجي يادېږي، خليفه ماذون وۀ او په سلسله عاليه چشتيه سهروردية کښې دَ حضرت پائنده محمد صاحب رحمه الله چې په هډې ملا مشهور وۀ ، خليفه وۀ ـ دغسې دوي په څلورو واړوه سلسلو کښې لاس نيوې کړې وې ـ دَ ښاغلي نور الله صاحب رحمه الله دَ وېنا مطابق:

''بابا جي مبارك به فرمائيل چې زۀ يو داسې طالب علم يم چې دَ حضور اقدس صلى الله عليه سلم دَ علمي چينې هره لمحه ځان سېرابول غواړم، او چې کله به حج له تلو نو دَ هغوي تلوسه او جذبه به دَ کتو وه ، ناسته ولاړه به پرې نۀ لګېده او داسې تلوار به ئې وه لکه چې دَ مودو مودو تږى اوبو ته لېواله وي، بيا چې به ئې کله دَ حجاز مقدس نه واپس تشريف راوړۀ نو تر ډېرو ورځو به ئې دَ مخ نه داسې تاثر راولاړېدۀ لکه چې ډېره خوشحالي ورته حاصله شوي وي، په واپس راتلو به ئې دَ مدح په بابت کښې ښکلي ښکلې نعت وئيل ''(15)

دا هغه جواز دى چې دَ باباجي ژوند ئې يوه ځلانده نمونه ګرځولې ده، دَ هغوي ديني زده کړو سره مينه هغوي ته يو لافاني حېثيت بخښلى دى ـ دَ دې دَ ټولو نه غټ ثبوت دا دى چې هغوي مبارك نن هم دَ لکونو خلقو په زړونو کښې نۀ يوائې ژوند کوي بلکې راج هم کوي ـ

# حوالې

(1) ډاکټر اسلام ګوهر ، په پښتو کښې د نعتیه شاعرۍارتقاء، پي ایچ ډي تیسس،کال۲۴ نومبر ۲۰۰۱،پښتواکیډمي ،پیښوریونیورسټي، صفحه 318-317

(2) تحسین الله، تذکره عاشق رسولﷺ فخر کشمیر الحاج محمد امین رحمة الله علیه، اداره نشر و اشاعت جماعت ناجیه المجاهد اباد عمرزۍ چارسده، طباعت 1999ء صفحه 51

(3) انصار الابرار، مجله جامِ کوثر مردان، خصوصي اشاعت عاشق صادق فخر کشمیر الحاج محمد امین باباجي رحمه الله، جلد 3، جنوري فروري مارچ 2015ء

(4) الحمدالله زوئی د الحاج محمد امین باباجي رحمه الله سره انټرویو ، نېټه 2 جولائي 2017ء ، المجاهد اباد عمرزۍ چارسده.

(5) هم دغه پورته انټرویو

(6) مسرت شاه ،هېډټیچر ګورنمنټ پرائمري سکول شېخ محمدزئي پېښور ،د لاس لیک په داخل خارج د سکول د پاڼې نه ،نېټه دریم ستمبر۲۰۱۷ء

(7) تحسین الله، تذکره عاشق رسول، تذکره عاشق رسولﷺ فخر کشمیر الحاج محمد امین رحمة الله علیه، اداره نشر و اشاعت جماعت ناجیه المجاهد اباد عمرزۍ چارسده، طباعت 1999ء صفحه 51

(8) ښاغلي الحمدلله صاحب سره مرکه، المجاهد اباد عمرزۍ چارسده، نېټه 2 جولائي 2017ء

(9) محمد امین الحاج، بهارِ مدینه، المکتبه النظامیه ، پېښور ، چاپ 2016ء صفحه 130

(10) عبدالحنان صافي، صافي قام، نېرېټو اسلام اباد، پاکستان، چاپ اول 2014ء صفحه 209

(11) انصار الابرار، مجله جامِ کوثر مردان، خصوصي اشاعت عاشق صادق فخر کشمیر الحاج محمد امین باباجي رحمه الله، جلد 3، جنوري فروري مارچ 2015ء

(12) تحسین الله، عاشق رسول، تذکره عاشق رسولﷺ فخر کشمیر الحاج محمد امین رحمة الله علیه، اداره نشر و اشاعت جماعت ناجیه المجاهد اباد عمرزۍ چارسده، طباعت 1999ء صفحه 51

(13) ښاغلي نور الله صاحب سره مرکه، استانه عالیه حضرت الحاج محمد امین صاحب، المجاهد اباد عمرزۍ چارسده، نېټه 2جولائي 2017ء

(14) تحسین الله، عاشق رسول، تذکره عاشق رسولﷺ فخر کشمیر الحاج محمد امین رحمة الله علیه، اداره نشر و اشاعت جماعت ناجیه المجاهد اباد عمرزۍ چارسده، طباعت 1999ء ، صفحه 33

(15) ښاغلي نور الله صاحب سره مرکه، استانه عالیه حضرت الحاج محمد امین صاحب، نېټه 2 جولائي 2017ء